مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

دودیال ۲۰۲۵/۰۶/۰۱

# هغه څوتکي چې زموږ هېر دي

## (نهمه برخه)

جمال عبدالناصر د سویز د کانال په ملی کولو سره، د مصر اقتصاد په ځان بسیا اوویسا کړ، هوچیمن د خوار او بیوزله ویتنام اقتصاد ژوندی کړ، د دوی ترڅنګ؛ لي کوان یو (Lee )هم زبردست رهبر و؛ یو کوچنی او بیوزله هېواد یې، چې خلکو یې پرته له کب نیولو بل کار او عاید نه درلود، د پیاوړي اقتصاد لرونکی کړ. د دغو خلکود کب نیولو اوپلورلو عاید دومره نه و چې دا هېواد په پرمختللو هیوادو کې وشمیرل شي، خو د (لي) دپلانونو او عالی فکر او ارادې په برکت نن ورځ سینګاپور یو پرمختللی هیواد دی، چې ښه اقتصاد او پیاوړی بانکی سیستم لري. اوس لي ته نړۍ د(وسپنیز سړي) نوم ورکړی دی. ده اقتصاد) پرپوهنه ګرځیدونکی (Knowledge economy اقتصاد کچې ته لوړ کړ. پرپوهه ګرځیدونکی اقتصاد لرونکی خلک د عاید په پرتله په خپلو لګښتونو ډېر پام اوحساب کوي!

دشلمي پېړۍ له شپېتمې لسیزې (۱۹۶۰م. ) وروسته په اقتصاد کې نوي نظریات رامنځته شول. په دې نظریاتو کې یو یې دا و چې: د هېوادونو د اقتصادی ودې درجه د دوی سړي سرکټه PCI/per ) capita income)نه، بلکې د ژوند ستندرد دی! بل بدلون د سروزو د پشتوانې په ځای د یوې قوی پیسې ځای نیولو عمومیت موندل او داسې نور بدلونونه وو. له همدې لسیزې وروسته یو شمېر نوي نظریات خپاره شول، د اقتصادي موسساتو مدیریت ګړندی او ماهر شو چې صنعت یې هم له میکانیزه شکل څخه اتومات او بیا دیجیتل شکل ته راوست.

بله نوې خبره چې په پوهه د ولاړ اقتصاد نظریه ده او هغه پخوانی فکر یې له اعتبار وغورځاو چې یواځې دعاید لوړول باندې متمرکزو. په پوهه د وړلاړ نوي اقتصاد ځانګړتیا دا ده چې د کار او استخدام د نویو فرصتونو د رامنځته کولو، د تولید ښه کېدلو او په نهایت کې د مطلوبیت د رامنځته کولو لپاره) پوهه (knowledgeمحور وګرځول شي. د دغه ډول یوه خوځنده اقتصاد لپاره علمي څېړنه ، تفکر، دارقامو د تحلیل توانايي او مهارت او د معلوماتو لرل اړین دي. ان دا چې د سنګاپور هېواد نالج اکونومي(knowledge economy ) خپل شعار وګرځاو او دغه کوچنی هېواد په لږ وخت کې دښه اقتصاد لرونکی شو. دعلمي اثارو او مقالوخپرېدل او د عامو خلکو د معلوماتو اوچتول د دې ډول اقتصاد د رامنځته کولو لپاره ضروري خبره ده . د همدې دلیل او تجربې له مخې له ۱۹۶۰ م. کال څخه د پوهې پرمحور کلک شوي اقتصاد ته پاملرنه وشوه اود ګڼ شمېر هېوادونو اقتصاد ته یې مثبت بدلون ورکړ.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

موږ لا اوس هم (د کم یا زیات عاید) ترځنګ؛ خپل لګښتونه نشو سنجولای. هغه ځوانان چې په سګرټ، نسوار، پیپسی او مضرو انرژی ښکاکونو، یا ملګرو سره بیځایه بنډارونو باندې پیسې لګوي، په بېځایه رواجونو، تاویزونو، په یو کال کې څو سیټ تیلفونونو، د نوي فیشن په موډونو مصارف کوي، یا داچې بهر ته د تګ په هیله قاچاقبرو ته زښت ډیرې پیسې ورکوي، یا د خپلو میوو او سبو په موسم کې بهرنۍ میوې او سابه پیرو، یاالخترونو کې پیسې په پټاقیو ورکوو...دا ټول د اقتصاد لپاره د زهر مثال دی. دحکومتونو ډېر لوړ بیځایه لګښتونه په پولیسی چارو کې هم یو بې منطقه لګښت دی، همدا اوس د شوکانې، لاجبرو او نورو قیمتی کانونو اېستل په غیر فنی ډول چې تر راټولو شویومحصولاتو یې ضایعات زیات دي، (په پوهنې د ولاړ اقتصاد) منافي دي. ډېر داسې مثالونه لرو چې یادونه یې خواشینی کووونکې ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ